**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

ژباړه: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۱۱/۱۰/۱۴
شپیگل انلاین ویبپانه

# د افغانستان بندیخانو کې شکنجې

لیکوال: یوهانس کورګه

نویيم بلاک کې دوزخ
د بندیان سره مرکې دابښيي چې بندیان سخت وهول، ټکول او کړول شوي، بریښنايي شوکونه او جټکې ورکړل شوي او د مرګ ګواښونه ورته شوي دي. دافغانستان په اړه د ملګروملتو م م دغه رپوټ د بشر د حقوقو فعالین ډیر خواشیني کړل، خو لږ حیران کړل. ځکه خلکو له کلونو څخه د دغو ناوړه اعمالو په اړه شکایتونه کړي وو، خو هیڅ څه کم بدلون په کې رانه غلي. د هیواد د کورنیو چارو وزارت دغه رپوټونه منلي او په اړه یي څیړني پیل کړي دي.
کابل: دا ډیرې زړه بوګنوونکې پیښې او صحنې دي، کوم چې افغان بندیان دافغاني بندیخانو څخه بیانوي. په بریښنايي کیبلونو باندې وهل ،بریښنايي شوکونه یا جټکې، په مرګ ګواښل او داسي نور ناوړه چلندونه. د م م یوځانګړي رپوټ دغه شوکورکونکې، ربړونکې حالات او شکنجې را بیرسیره کړي.



دافغانستان د کندهار په زندان کې شکنجه یوه نورماله خبره ده .

حقوقي دعوا
د بشر د حقوقو سازمانو د دغې زړبوګنوونکې څیړني په اړه سخت غبرګون وښود. دوی په هیواد کې د بهرنیو پوځې ځواکونو په وړاندې سختي ګوټ نیوکې راپورته کړي. دعفي او ښښنې نړیوال سازمان وایي، زموږله خوا د نړیوالي ټولنې سوله ساتونکې ځواکونه ،، ایساف،، ته د هیواد په بندیخانو کې د ناوړو حالاتو په اړه خبر داري ورکړل شوي وو. د دې په ځای چې دوی غبرګون وښایي، د ایساف څخه حالات بلکل له کنټروله وتلي وو. په سیمه کې دعفي او ښښنې نړیوال سازمان غړي سم ظریفي وایي.
اوس حکومتونه مسوول دي چې توضیح کړي، څنګه د دوی په شتون کې داسي ناروه چلند او پیښي ترسره شوي دي. دعفي او ښښني نړیوال سازمان د سپټمبر په میاشت کې د دغې څیړني دټولو جزیاتو له کنتي څخه ورسته غبرګون هم ښودلي وو.
م م خپل ۸۴ مخیزه رپوټ په ډیرو سختو او حیرانوونکو ټکو کې لیکلي دي، چې د افغان د بندیخا نو د ډیوالونو تر شا له بندیانو سره څنګه بد چلند کیږي او څه تیریږي.
دغه ۳۷۱ میړه بندیان د م م د غږولو او مرکو پر مهال بې نامه وو او یواځې یو نمبر یا شمیره یي درلوده. مستنتقینو له بریښنايي کیبلونو څخه استفاده کړي ده. یو بندي وایي، زه په کیبلونو باندې لاسو نو ته وهلي شوي یم، هر ځل به یي راته ویل، موږ به تا ووژنو که ته په جرم اقرار او اعتراف و نه کړې. یوبل بندي وایي، دوی ما ته په ساعتونو ساعتونو شکنجه را کړي ده. دوی زه په لاسونوباندې پر سپنیزه دورواز ه ځوړند ولم. زما مخ په یوه کڅوړه کې پټ وو. ډیر ځنډ ورسته بیا دوی پیل کاوه او زه به یي په پلاستیکي ډنډو پښو ته وهلم . ۲۴۳ تم بندې په دغه رپوټ کې وایي، زه یي په تناسلي اله کې هم ډیر سخت وهلي یم. دغه مرکې او خبري ټولو په یو ډول کړي دي.

دغه رپوټ د بندیانو سره د بد او ناوړه چلند کچه ورښيي.
د غه رپوټ په ډیر پاملو کې لیکل شوي دی. د م م د پلټنې پر بنسټ په ډیرو بندیان کې د شکنجې نښې نښاني له ورایه لیدل کیږي. ددوی ټپونه د دوی د ځوړولو شکنجو کیسو سره سمون خوري. دغه رپوټ نه یواځې په خپلو جزیاتو کې دقیق دی، بلکې دغه رپوټ یوه جوته شمیره د بندیانود ځوړولو، ربړولو او شکنجې ور ښيي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د م م په چوکاټ کې د دوی سیمیزه چارواکي تر فشار لاندې دي. د م م د قوانینو پربنسټ شکنجه د بشري حقوقو څخه په ښکاره سر غړونه او ستر جرم ګڼل کیږي. دغه عمل په نړیوالو قوانینو او د افغانستان په قوانینو کې جرم دی. له همدې امله د دغو پیښو مسوولین باید مجازات شي، د افغانستان لپاره د م م د بشر د حقوقو مسوول او د م م د مرستو دانسجام اداري یا یوناما مشر وویل. ده دا هم وویل چې سیمیزه دولتي چارواکو د پلټنو پر مهال له یوناما سره ښه همکاري کړې ده.

اټکل یو کال له بندیاتو سره مرکې، پوښتنې او پلټنې شوي دي.

د م م چارواکو ددې رپوټ دبرابرلو لپاره ډېر مصارف تر سره کړي هم دي، تر څو دوی له ۳۰۰ میره بندیانو چې په وسله والو نښتو کې نیول شي وو، خپلواکې خبري اترې او مرکې وکړي.

م م په ټول هیواد کې ۴۷ بندیخانو کې له بندیانو څخه لیدنه کړې ده. د پلټنو ،پوښتنو او مرکو پرمهال هیڅ دپولیسو ساتونکې شتون نه درلود. مرکې اوخبرې اترې د بندیانو په مورني ژبه کې ترسره شوي دي. دافغان بندیانو سره دغه پلټنې او پښتنې په نهو میاشتو کې د ۲۰۱۰ اوکتوبر څخه تر ۲۰۱۱ اګست میاشت پورې په پرلپسې توګه تر سره شوي دي.

م م وایي، پلټنې ښایي چې یواځې د افغانستان د ملي پولیسو په بندیخانو کې دبندیانوسره ددریمې برخې څخه ډیر شکنجه او ناوړه چلند شوی دی.

حقوقي دعوا

د م م رپوټ پر بنسټ حالات د ملي امنیت یا استخباراتو په بندیخانو کې تر دې هم بد تره وو. دلته د ټولو پوښتل شویو بندیانو څخه ۴۶ سلنې د بند په موده کې لږ تر لږه یو وار د دوی په وړاندې د درندو شکنجې له میتودونو څخه کار اخیستل شوي. په دولت باندې د م م رپوټ تورنه ښیي چې دا کوم خل خل پیښې نه دي، بلکې په سیستماتیک ډول په بندیخانو کې شکنجې تر سره شوي دي.

نوییم بلاک کې ځورول او رټل

رپوټ په ځانګړي ډول په نوییم ګوښمناکه بلاک کې ساتل شویو بندیانوله ځورولو څخه خبر ورکوي. دلته دملي امنیت په ریاست کې په ترهګریو جرمونو تورنوکسان او نور د دولت دښمنان بندیان دي. شکجه او ځورول په ډلیزه ډول او په لیکو کې هم تر سره شوي دي. د ۲۸ بندیانو څخه دوو کسانو وویل چې دوی د خپل بند په موده کې له شکنجوڅخه بچ پاتي شوي دي. د دولت د دښمنانوپه منځ کې تنکې ځوانانو هم شتون درلود. دوی هر ځل په مرکو کې بندیخانه د دوزخ سره پرتله کوله.

د افغانستان دولت غبرګون په دې اړه ډیر پخ وو، په کابل کې د کورنیو چارو وزارت وویل، موږ به دا رپوټ واخلو او په راتلوونکې څو ورځو کې به خپل غبرګون څرګند کړو. چارواکو و منله چې ځینې تیروتنې تر سره شوي دي او وعده یې وکړه چې د دغې پرابلم د حل په برخه کې به کار وکړي.

پای

.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ